PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۸۸۳

لسم کال - دویمه دوره، ۸۸۳ مه گڼه، پر له پسې ۱۹۵۰ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د تلې ۱۰ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۲۳ مه ۲۰۱۰ د اکتوبر ۲ مه

توزیع نمرات رهایشی به معلمان ولایت بلخ

روند توزیع نمرات رهایشی یک شهرک، به هزاران معلم در ولسوالی نهرشاهی ولایت بلخ، آغازشده است. داکترفاروق وردگ وزیرمعارف، طی یک نشست خبری مشترک با عطامحمد نور والی بلخ، گفت که به ۶۴۳۶ معلم این ولایت، نمرات رهایشی توزیع می شود. ص۳

د امریکا د پرمختیايي اداړې میلیونونه ډالر طالبان ترلاسه کوي!



د امریکا د پراختیايي اداړې د تفتیش څانګې تور پورې کړی دی، چې په افغانستان کې د دې اداړې په میلیونو ډالر طالبان ترلاسه کوي. دغه تورونه د ګلوبل پوست په ګډون په یو شمېر ورځپاڼو کې خپاره شوي دي، خو په افغانستان کې دننه د دې اداړې مسوولان د دې تورونو شواهد غواړي، فارن پالیسي خپرونې دا مسئله څېړلې ده.

د امریکا د نړیوالې پراختیايي اداړې د عمومي څېړنې دا اداړې په وینا په افغانستان کې د مرستو په میلیونونو ډالر سهوا طالبانو ته رسېږي. د دې موسسې د تفتیش دا اداړې د مشر په وینا دا پیسې د رشوت په بڼه طالبان ترلاسه کوي.

دا پیسې د امریکا په میرلنډ کې د (ډي اې ای) په نامه د یوې موسسې دي، چې د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې د یو ایس ای ډي پروژې تمویلوي.

د رپوټ له مخې په جلال اباد کې د دې موسسې له افغان قراردادیانو پوښتنې روانې دي. د ډي اې ای موسسې یوه ویاند وویل، په جلال اباد کې دوی اولس افغان کارکوونکي له کاره لرې کړي دي.

د ډي اې ای موسسې مشر جیمز بومګارډ وویل، مور د امریکا د حکومت هڅو ته ژمن یو او له همدې املې د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې چې امنیت یې خوندي نه دی کار کوو او سره له دې چې له اور سره لوبې کوو، پر خپل کار ویاړو او د پیدا شویو ستونزو څېړنه مو پیل کړې ده.

د ډي اې ای موسسې مشر زیاته کړه، کله چې اړتیاوي مور پروژې ترې، کار په ځینو سیمو کې بندوو، کارکوونکي له کاره باسو او دا کارونه علني کوو، ۳مخ

پاکستان عبور کاروان های اکمالاتی ناتو را از خاک خود متوقف کرد

پاکستان اکمالات نیروهای ناتو مستقر در افغانستان را از طریق آن کشور، بعد از آن متوقف ساخت که هلیکوپترهای ناتو بر مناطق قبایلی در آن طرف خط دیورند، حملات هوایی انجام دادند.

هلیکوپترهای ناتو از آغاز هفته جاری تا حال، سه بار در مناطق قبایلی پاکستان حملات هوایی انجام داده اند، که در نتیجه آن بیش از ۳۰ طالب مسلح به قتل رسیده است؛ همچنان در نتیجه این حملات، سه تن از سربازان سرحدی نیز کشته شده اند.

مسوولان محلی ایالت پشتونخواه خیبر پاکستان، گفته اند از اسلام آباد برای شان دستور داده شده است که عبور موترهای اکمالاتی ناتو به طرف تورخم را اجازه ندهند.

یک تن از مسوولان نیروهای سرحدی در تورخم که نخواست اسمش گرفته شود، به آژانس خبری پژواک گفت که موترهای یادشده، در ص۳

د اروانباد الحاج میا ګل اروال د فاتحې اعلان

الحاج میا سید نجیب دوینې په بانک کې د آرشیف مسوول، استاد میا سید معین حسام دامام بخاري په لیسه کې استاد.

ډاکټر میا سید حبیب اروال د عامې روغتیا په وزارت کې د تولنیزو روغتیايي خدمتونو مشر، ډاکټر میا ګل حبیب اروال د خوګیانیو په ولسوالي کې د عامې روغتیا د چارو مشر، او الحاج غلام حبیب حسام په کابل کې د سعودي عربستان د سفارت سکرتر وروڼه.

میا حسین احمد اروال، میا نور حبیب اروال، میا سید مجتبې اروال او میا سید ولید اروال زامن. الحاج میا ملنګ قادري د IRI د ساحوي پروګرامونو مشر، انجنیر میا نورالهدی، میا خان آغا د تره زامن. الحاج نقیب الله د ننګرهار ښاروالۍ کارمند او اسدالله رشید د ماما زامن.

ډاکټر سید عباس سادات د ننګرهار په عامې روغتیا کې موظف ډاکټر، انجنیر سید الیاس سادات او ډاکټر فصیح الدین نجم د ترور زامن. الحاج حزب الله، ډاکټر شاه ولي، دلاور خان او بازمحمد خان د عمه زامن. سید اور نګزیب پاچا، سید عبدالمطلب پاچا، الحاج مامور زین الله او محمد هاشم اوښې، سید میرویس پاچا، سید مبارز پاچا، سید مسعود او پرویز خوریونه. انجنیر زین الله زوم، عیسي خان هاشمي، محمد داوود هاشمي، حاتم هاشمي د باجه زامن.

د اروانباد میا ګل اروال د مرینې له کبله دوستانو ته خبر ورکول کېږي، چې د اروانباد فاتحه، چې جنازه یې پخوا په پلرنۍ هدیره کې خاورو ته سپارل شوې، د میزان د میاشتې په لسمه نېټه د شنبې په ورځ د ماسپښین له ۱:۳۰ تر ۳:۳۰ بجو پورې د عیدګاه په جومات کې د اروانباد د کورنۍ او خپلوانو، د افغان نشراتي مرکز، د اسیا په جنوب کې د رسنیو (سفما) تولنې او د خوریانیو د سرتاسري شورا له خوا اخیستل کېږي.

در اولین نشست پارلمان سویدن،

خروج نیروهای سویدنی از افغانستان بررسی می‌شود



در حالی که دولت کنونی سویدن قصد دارد ماموریت نیروهای سویدنی در افغانستان را تمدید کند، اما احزاب مخالف دولت آنکشور قصد دارند در اولین نشست پارلمان خروج نیروهای شان را از افغانستان بررسی کنند.

به نقل از خبرگزاری فرانسه، احزاب مخالف دولت سویدن اعلام کردند که تصمیم دارند در جریان اولین نشست پارلمان بعد از انتخابات، موضوع خروج نیروهای سویدنی از افغانستان در سال ۲۰۱۳ را بررسی کنند.

پارلمان سویدن هفته آینده برای نخستین بار و بعد از انتخابات ۱۹ سپتمبر تشکیل جلسه خواهد داد.

"فردریک رینفلت" نخست وزیر کنونی سویدن قصد دارد در این جلسه دولت خود را معرفی کند.

ایتلاف چهار حزبی نخست وزیر سویدن اکثریت کرسی‌های ص۳

د ۳۹ مرکزونو رایې بې اعتباره وګڼل شوې

په داسې حال کې چې کابل هره ورځ د ولسي جرګې پر انتخاباتو د اعتراض کوونکو کاندیدانو د غونډو شاهد وي، د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي چې، د دوی څېړنو وښودله چې په یو شمېر انتخاباتي مرکزونو او محلونو کې ښکاره درغلي شوې دي.

د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون رییس فضل احمد معنوي ورمه ورځ یوې خبري ناستې ته وویل چې، تر اوسه یې د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د یو شمېر مرکزونو او محلونو رایې په بشپړه توګه بې اعتباره کړي او د ځینو مرکزونو او محلونو رایې به له سره وشمېرې، ښاغلي معنوی زیاته کړه: (په مجموع کې د نهه دېرشو مرکزونو رایې ۳مخ

٤٥٠٠ تن در مسابقه دینی و علمی اشتراک نمودند

برای حایز مقام اول حج عمره و زیارت بیت الله شریف در نظر گرفته شده است

۲۰ اشتراک کننده که بیشترین نمره را به دست اورند مستحق جایزه خواهند شد

چهار هزار و پنجصد تن از جوانان ولایات مختلف کشور دیروز در مسابقه بزرگ دینی و علمی در شهرکابل اشتراک نمودند. احمدضیا رحیمزی یکتن ازاعضای کمیسیون مطبوعاتی جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان به آژانس خبری پژواک گفت که این مسابقه ازجانب جمعیت یادشده تنظیم و ازجانب شرکت توریستی و سیاحتی ذکرالله مومن زاده، شرکت تجارتی عثمان عمر و بنیاد خیریه اسلامی افغان تمویل می گردد. وی گفت که هدف از راه اندازی این مسابقه روشن ساختن اذهان جوانان در مورد مسایل دینی و تاریخی می باشد. به اساس معلومات منبع، ثبت نام برای این مسابقه از ۱۴ سنبله تا اول میزان صورت گرفته و از بین ۵۱۵۰ تن به شمول زنان و دختران جوان که ثبت نام نموده بودند، ۴۵۰۰ تن در مسابقه شرکت نمودند.

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

یو بـا ارزښته ګـام، خو کـه عملي شي!

په دې وروستیو کې د افغانستان مالیې وزارت پر یوه نوي اقدام لاس پورې کړی، چې له مخې یې ټولو هغو دولتي چارواکو ته یوه میاشت وخت ورکړی، چې له خپلو خپلوانو سره د مالي اړیکو او یا په به وینا له هغوی سره د قرادادونو او کار کولو اسناد ور وسپاري. دا کار یې د دې لپاره کړی، چې ویل کېږي په هېواد ډېری دولتي چارواکي له خپلو خپلوانو سره مالي قرادادونه کوي او په دې توګه دوی له دولت څخه ډېرې پیسې ترلاسه کوي او دا داداري فساد یو بل ستر ښاخ بولي. د مالیې وزارت د چارواکو په وینا دوی به په یوه میاشت کې خپل اسناد بشپړوي او تر څېړلو او اروزلو وروسته به پر هغو پرېکړه کوي، که چېرې په فساد کې ښکېل وختل، نو وار له واره به یې عدلي او قضایي ارګانونو ته سپاري. د مالیې وزارت چارواکي وایي، دا ګام یې د فساد لپاره د مبارزې په پار پورته کړی او هیله لري، چې په دې کار سره به په هېواد کې د مالي چارو په برخه کې تر ډېره د فساد مخنیوی وکړي.

خو که حالاتو ته پاملرنه وشي، له لوړپورو چارواکو رانیولې بیا تر ټیټ پورو چارواکو ټول د خپل توان په اندازه په دې چاره کې لاس لري. یاني د دولت ډېری چارواکي چې کله قرارداد اخلي او یا یې ورکوي، نو خپل نژدې کسان او خپلوان یې په کې تر ټولو د سر په کتار کې وي. مور ډېر ځایونه وینو، چې اکثره پروژې او قراردادونه داړوندو چارواکو له خوا خپلو خپلوانو او یا نژدې کسانو ته په ټکه ورکړل شوي وي او ټوله ګټه وتله یې یوازې همدوی ته رسېږي. باید ووایو، چې دا یوه داسې ساري ناروغي چې نه یوازې د افغان دولت پلازمېنه کابل کې خوره ده او چارواکو ته یې سرایت کړی، بلکې د هېواد په ټولو ولایتونو کې همدا حال دی، ته به وایې چې دولت او حکومت یوازې د یو څو کسانو دی او یوازې د همدوی لپاره کار کوي. ځکه پر پلازمېنه سربېره په ولایتونو کې هم اکثره پروژې او قراردادونه د والیانو نژدې خپلوان اخلي او دا د دې لپاره، چې په دې پروژو او قرادادونو کې والیان او ځینې اړوند چارواکي هم خپل حق لري او دا چې څوک یې راز افشا نه کړي، نو له همدې کبله یې نژدې، باوري او خپلوکسانو ته ورکوي. هغوی بیا که له لسو روپیو څخه دوې روپې مصرفوي، نو نورې یې یوه برخه والي صاحب یا بل اړوند چارواکی خپل جېب ته اچوي او څه هم خپل کس ته ورکوي او په دې توګه د دوی ټولو ښه پرې کېږي. باید ووایو، چې دا لوبه د حکومت په دننه کې ښه په درز کې روانه ده او ښایي ډېر کم شمېر حکومتي چارواکي وي، چې د دې لوبې لوبغاړي نه وي او په دې ډول ستر مالي او اداري فساد کې لاس ونه لري. نو د دې لپاره چې د دې ډول فساد د له منځه وړلو لپاره مالیې وزارت اقدام کړی، دا پر خپل ځای یو په زړه پورې او پر ځای ګام دی، خو په دې شرط چې عملي بڼه هم ورته ورکړي، ځکه دولت اوس د ملت پر وړاندې خپل باور له لاسه ورکړی، له ملت سره ډېرې ژمنې وشوې، خو په عمل کې هېڅ هم ونه شول. اوس چې مالیې وزارت د دې اقدام کړی، نو موږ یې هرکلی کوو، خو په حقیقت کې دا د مالیې وزارت لپاره یوه ستره ننګوونه هم ده، ځکه ښایي ډېری داسې چارواکي هم وي، چې د مالیې وزارت ورباندې زور ونه رسېږي، خو که چېرې په واقعي او رښتینې توګه په دې برخه کې عملي او بې طرفانه ګامونه پورته کړي او تورن کسان د قانون منګولو ته وسپاري، نو دا به یې د مالي او اداري فساد د له منځه وړلو په لار کې یوه ستره لاسته راوړنه وي.

کـله مـې پېرزو وې پر بـمونو کـندهارې!

فهیم مینه ناک

په رښتیا هم چې کندهار د ښکلاګانو، ګلونو او باغونو کور دی، خو اوس په دغه ښکلي او ګلورین کور کې داسې بلاوو ځالې کړې دي، چې د دغه کور ښکلا او رنګینې یې هم له ګوابې سره مخ کړې. اوس په دې کور کې د خوشحالیو او خندا ګانو پر ځای د ویر، ژړا او غمونو ځوړ پورته کېږي، اوس په دې کور کې ژوند له مرګ سره لوبې ته وایي، اوس هر څه بدرنګ شوي. داسې ورځ نشته چې د دې کور غږي دې پرې خوښي څرګنده کړي. اوس د دغه کور او د دغه ښار وګړي ټول په ناورین کې ژوند تېروي، ټول له سختو ستونزو او افتونو سره مخ دي. اوس هلته هره ورځ مرګونه دي، جنازې دي، اوس هره ورځ هلته د د ګلونو د وړمو پر ځای د بارونو دود پورته کېږي، اوس هره ورځ ماشومان د مور د شیدو پر ځای د مرمیو په خوراک سره پر ابدي خوب ویدېږي، هلته اوس هره ورځ بمونه راورېږي، هره ورځ د اور لمبې پورته کېږي او د دې ښار او ولایت وګړي په کې وریتېږي، لنډه دا چې دا ښار او دا کور اوس د غمونو، ویرونو، ژړاوو، مرګونو او اورونو پر ښار بدل شوی دی.

د دې کور دوښمنان نه غواړي چې د دې کور او دې ښار وګړي په ارامۍ کې ژوند وکړي. کله چې ناټو او افغان ځواکونو په مارجه کې خپل عملیات ترسره کړل، نو له یوې مخې یې هلته د امن پر ځای د بې امنۍ تږغورځوله، ځکه د دوی تر عملیاتو مخکې هلته کراره کراري وه، خیر څه پروا یې درلوده که هلته د دولت پر ځای د طالبانو واکمني وای، خلک خو یې ارام وو، او خپل عادي ژوندانه ته یې دوام ورکاوه، خو د دوی د عملیاتو له املې ټول ولیدل، چې په مارجه کې څه وشول او څه تېر بدل او اوس د مارجې څه حالت دی؟!

په دې توګه اوس دوی تر مارجې وروسته په کندهار کې دوی دغه غملړلي او له ناورینه ډک عملیات پیل کړي دي او د کندهار د ډېری سیمو پر خلکو یې ځمکه سره تبې ګرځولې ده او له املې یې له سختو ستونزو سره مخ دي. دا اوس موسم داسې یو موسم دی، چې هلته ډېری باغونه رسېدلي او د رنګارنګ مېوو د حاصلاتو د راټولو وخت دی، په دې توګه خلکو هم خپلو حاصلاتو ته سترګې نیولې، خو د څو میاشتو خواریو نتیجه ترلاسه کړي، خو له بده مرغه اوس دا حاصلات د مرمیو او بمونو خوراک دي، او خلک ایله د خپل ځان دایستلو تابیاوې نیسي او آن په زرګونو کسان خو له هغو سیمو وتلي هم دي، چې جنګ په کې پیل شوی او د کندهار ښار ته یې پناه راوړې او هلته په ډېر غربت او سختو شرایطو کې ژوند تېروي.

په همدې ترڅ کې څو ورځې وړاندې چارواکو وویل، چې په کندهار کې د طالبانو پر خلاف د ناټو ځواکونو د سختې جګړې له کبله په سلګونو کورنۍ مجبوره شوي چې کور اور ته ښا واړوی او نورو سیمو ته ولېږدي.

افغان او نړیوالو ځواکونو په کندهار ولایت کې بلاخره هغه پراخ عملیات پیل کړي، چې له تېر کال راهیسې یې د هغو په اړه تبلیغات کول. د تاند وېبپاڼې د راپور پر بنسټ، خلک د کندهار ښار په شاوخوا کې له هغو ولسوالیو او سیمو تښتي چې طالبانو په کې نفوذ درلود او اوس د افغان، ناټو او امریکایي پوځیانو سخت عملیات په کې روان دي.

د کندهار ولایت د کډوالو د چارو رییس محمد اعظم نوابي فرانس پریس خبري اژانس ته ویلي: «په یوه میاشت کې کندهار ښار ته له ډېرې اوارغنداب ولسوالیو څخه تر نهه سوه زیاتې کورنۍ راغلي. لا هم خلک له خپلو کلیو په تښته دي او کله چې

۳ مخ

آیا روند انتخابات با تبلیغات منفی مخالفان خدشه دار میگردد؟

عبدالباصر «منصوری»

همانطوریکه همه آگاه اند روند انتخابات ۲۷ سنبله ولسی جرگه گزنیه خیلی اهم در رفتن به سوی دموکراسی و حکومت مردم بر مردم در جامعه ما صورت گرفته است و باید کسانی که تبلیغات سوء را علیه این انتخابات آغاز نموده اند، حداقل به آرای شهروندان افغانستان احترام گذاشته و از ارایه هر نوع تبلیغات منفی اجتناب و دوری نمایند.

همانگونه که بارها به دلایل مقنع و مستند از همسایه جنوبی (پاکستان) ما بارها شکوه نموده ایم به هر حال همه میدانند که در عقب تمام این تبلیغات و افواهات کشور پاکستان ذیدخل می باشد اما افسوس به حال آن کسانی که خود را تبعه افغانستان میدانند ولی همیشه فریب بیگانگان را خورده و تحجر و دهشت افگنی را در وجود خویش سرشته اند و کارهایی را ابزارگونه انجام میدهند که سرانجام تیشه بر ریشه خود و مردمان این مرز و بوم وارد ساخته و آنها را متضرر میسازند.

قبل از همه نیم نگاهی به روند انتخابات داشته باشیم که در کل باید همه این مطلب را بپذیرند که پروسه انتخابات و رأی دهی در رفتن به سوی دموکراسی کمک شایانی را مینماید و توقع در این است همانگونه که مردم در این روند ملی اشتراک گسترده داشته اند باید مشتاقانه و صبورانه در انتظار اعلان نتایج آن نیز باشند و دیگر ارزشی به شایعات و تبلیغات مخالفلن ندهند. به هر حال تقلب و تخطی در پروسه های این چنینی، خالی از تصور نیست ولی بهر حال در مورد رسیده گی به شکایات و تقلبات، کمیسیون شکایات انتخاباتی ایجاد گردیده که رسیده گی به معضلات مسئوولیت و رسالت آنها است و باید کسانی که در این روند تخلف و تخطی نموده اند از جانب کمیسیون شکایات انتخاباتی نخست شناسائی و بعداً به پنجه قانون سپرده شوند، چنانچه کارهایی در این مورد انجام شده که میتوان از دو مورد باطل نمودن



ص ۳

پاکستان عبور کاروان های...

مناطق مختلف بین پشاور و جمرود توقف داده شده اند.

زړورخان شینواری مدیر گمرک در تورخم جانب افغانستان، گفت که از صبح دیروز بدینسو، یک موتر اکمالاتی ناتو هم از مرز عبور نکرده است. وی علاوه نمود: " بر اساس راپورهای ما، نیروهای سرحدی پاکستان، موترهای اکمالاتی نیروهای ناتو را در مناطق مختلف خیبر ایجنسی، توقف داده و اجازه نمیدهند که به طرف تورخم حرکت کنند". اما وی گفت به موترهایی که مربوط ناتو نبوده و مواد را به افغانستان انتقال میدهند، اجازه داده میشود، تا از مرز عبور نمایند.

خروج نیروهای سویدنی...

پارلمان این کشور را در انتخابات ۱۹ سپتمبر به دست آورده است.

نشست پارلمان برای خروج نیروهای سویدنی از افغانستان در حالی برگزار خواهد شد که دولت کنونی سویدن اعلام کرده است که قصد دارد ماموریت نیروهای سویدنی در افغانستان را تمدید کند و از تعیین تاریخی برای خروج نیروهای خود از افغانستان نیز امتناع می‌کند.

آیا روند انتخابات با...

یکی از سایت های دو تن از کاندید وکلا در ولایت خوست و شمارش دوباره آرای بعضی مراکز و سایت ها در ولایات: لوگر، خوست، بدخشان، تخار، پروان و بلخ با حضور ناظران نامبرد. ضمناً از جانب آن کمیسیون تعداد مراکزی که گویا تقلب در آن صورت گرفته است به ۶۲۰ مرکز در سراسر افغانستان پیش بینی گردیده است. بناً کارهای لازم برای بررسی و تفکیک آرای تقلبی و غیر تقلبی به شدت زیر کار است و توقع مردم افغانستان نیز از کمیسیون شکایات انتخاباتی همانگونه که وعده داده است که در حفظ آرای مردم امین خواهند بود بخاطر شفافیت هر چه بهتر این پروسه و نهادینه ساختن مردم سالاری در کشور میباشد و باید به گفته خود جامه عمل بپوشاند و به اثبات برساند تا مردم افغانستان باورمندی شان به آنها تقویت گردد.

پس بر مردم غیور و با شهامت افغانستان است همانطوریکه زیر تأثیر تبلیغات و حتا تهدیدات مخالفین قرار نه گرفته پای صندوق های رأی رفتند اکنون نیز گول و فریب تبلیغات منفی حلقات منفی گرا را نه خورده و به رأی خود و پروسه انتخابات اطمینان داشته باشند.

توزیع نمرات رهایشی به...

موصوف افزود نمرات یادشده، در شهرکی که در مرکز ولسوالی نهرشاهی بلخ جدیداً تاسیس می شود، توزیع می گردد.

وزیرمعارف گفت حق اولیت به استادانی داده می شود که بی سرپناه اند.

اسدالله یکتن از معلمان لیسه باختر شهر مزارشریف، از توزیع نمرات متذکره اظهار خوشی نموده؛ اما افزود که آنها توان اعمار خانه را ندارند.

وی افزود: " دولت باید درقسمت اعمار منازل باما نیز مساعدت نماید؛ زیراکه معاشات ما به مصارف ماهانه هم کفایت نمی کند".

عطامحمدنور والی بلخ، افتتاح شهرک و توزیع نمرات به معلمان را نمونه یی از کمک دولت به معلمان کشور دانست.

قرار اظهارات موصوف، دراین ولایت ۱۱هزار معلم موجوداست،که نمرات یادشده برای آنها کافی نمی باشد.

اقای نور، از وزارت معارف خواست که برای تمام معلمان این ولایت، باید نمرات رهایشی توزیع شود. داکتر فاروق وردگ وزیرمعارف، تعهدنمود که درآینده، برای معلمان در ولسوالی های چمتال و چاربولک نیز شهرکهایی اعمار خواهدشد.

د ۳۹ مرکزونو رایې...

باطلې او بې اعتباره ګڼل شوې دي، همدا رنګه داته دپرشو مرکزونو او محلونو رایې به له سره وشمېرل شي، دا وروستۍ خبره نه ده او نورې څېړنې هم روانې دي.) د افغانستان د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون رییس دا هم وویل، چې د رایو پر شمېرلو کره څېړنې روانې دي او هره ورځ به د یوه یا زیاتو ولایتونو د مرکزونو د رایو د شمېرقسمي پایلې اعلان کړي.

ده د هغو ولایتونو د مرکزونو د رایو د شمېرد قسمي نتایجو په هکله وویل چې تازه یې پلټنې بشپړې شوي دي: (هغه قسمي رایې چې تازه له پلټنو تېرې او شمېرل شوې دي د کابل، بلخ او بدخشان د ولایتونو د مرکزونو رایې دي. د اته ویشتو نورو ولایتونو رایې هم شمېرل شوي چې پروسس یې پاتې او وروسته به اعلان شي.) د افغانستان د ولسي جرګې انتخابات کابو دوې اونۍ مخکې د رایو ورکولو په کابو پنځه زره پنځه سوه مرکزونو کې ترسره شول.

دازادي راډیو د راپور له مخې، د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون وایي، چې د انتخاباتو د بهیر په هکله دوی ته تر اوسه څه باندې درې زره شکایتونه ورسپارل شوي دي، چې کابو شپیته فیصده په کې مستندې درغلۍ په ګوته کوي، خو د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي، چې د درغلیو په هکله د دوی پیل شوې څېړنې لا هم روانې دي.

کله مې پېرزو وې پر...

ښار ته رارسېږي، نو خورا په بد حالت کې وي.» ده دا هم وویل چې اکثره خلک تش لاس کندهار ښار ته کډواله کېږي. د افغانستان د سره میاشت ټولته اټکل کوي چې د جګړې له سختېدو او پراخېدو سره به د بې ځایه شویو خلکو شمېر نور هم زیات شي. د افغاني سرې میاشت ټولنې د نړیوالوچارو سلاکارا احمدالله احمدي ویلي: «مور اټکل کوو چې د عملیاتو د دوام په صورت کې به په زرګونو نور خلک له خپلو مېنو بې ځایه شي او کندهار ښار ته به مخه کړي.» ځینو کډوالو، چې د جګړې له ډېرسخت میدان، یانې ارغنداب څخه کندهار ښار ته تللي، وویل دوی د د حاصلاتو په وخت له خپلو مېنو وتلو ته مجبوره کړای شول، چې دې کار د دوی د ژوند او ګوزارې امکانات له منځه یووړل.

باید ووایو، چې څه باندې اوو زرو افغان او نړیوالو ځواکونو د کندهار ښار په شاوخوا کې د ښامار ګوزار په نامه عملیات پیل کړي. له دې عملیاتو سره پر یوه وخت په کندهار ښار کې افغان امنیتي ځواکونو، چې د ناټو د پوځیانو له لوري یې ملاتړ کېږي، تلاشۍ پیل کړې دي. نړیوال ځواکونه غواړي چې ژړې، ارغنداب او پنجوایي ولسوالۍ له طالبانو پاکې کړي. په هر صورت دا چې په هغو سیمو کې چې دوی په کې عملیات پیل کړي، څه کېږي او کوم خلک چې هلته پاته دي، څه پرې تېرېږي او همداشان هغه کسان چې د کډوالۍ وس یې درلود، سیمې او کورونه یې پرې اېښي دي، په کوم حالت او څه ډول ژوند تېروي، دا هغه موضوع ده، چې پراخې څېړنې ته اړتیا لري، خو که د دوی په وینا په رښتیا د دوی موخه له سیمې څخه د طالبانو پاکول وي او په سیمه کې د دوی په اصطلاح د امنیت راوستل او د بیا رغونې د چارو پیلول او پر مخ بېول وي، نو بیا یې غوره بېلګه مارجه ولسوالي ده، چې دوی هلته د عملیاتو تر پیلېدو همدا لافې وهلې وې، خو په عمل کې هر څه سرچپه شول، امنیت تر پخوا خراب شو، خلک له راز راز ستونزو سره مخ شول او لا هم له ستونزو په ډک چاپېریال کې ژوند کوي او حالت یې تر پخوا نور هم خراب شوی، نو که چېرې په کندهار کې هم دا ډول عملیات ترسره شي، نو هلته به هم د مارجې کیسه تکرار شي او حالت به داوس په پرتله نور هم خراب او خلک به یې هم له ګنو ستونزو سره مخ شي او په دې ډول به بیا څوک دې ته تیار شي، چې هلته بیا د بشري ناورین او نارامۍ مسوولیت پر غاړه واخلي؟!

۷ باب مکتب در تخار اعمار میگردد



قرار است که به ارزش ۱.۵ میلیون یورو کمک کشور جرمنی ، به خاطراعمار تعمیرهای ۷ باب مکتب در چهار ولسوالی ولایت تخار آغاز گردد.

این مطلب را داکتر غلام فاروق وردگ وزیرمعارف، پس از امضای قرار داد با زینت کاربیل (Zinat karbel) رییس موسسه اکتید بیان داشت .

به گفته وزیر معارف، موسسه اکتید دراعمار تعمیرات مکاتب، وزارت معارف را همکاری می نمایند . وی می گویدکه درحال حاضر درولایت تخار، بیش از ده ها باب مکتب ، فاقد تعمیرمی باشد. زینت کاربیل رییس موسسه اکتید که تطبیق کننده پروژه مذکور میباشد؛ ضمن وعده همکاری با معارف افغانستان طی صحبتی گفت که با اعمار این مکاتب، میخواهند دربخش آموزش شاگردان افغان سهم گیرند همچنان محمد آصف ننگ رییس نشرات وزارت معارف به آژانس خبری پژواک گفت که تعمیرهای مکاتب یادشده در ولسوالی های اشکمش ، ینگی قلعه ، خواجه غار وبنگی ولایت تخار اعمار می گردد. موصوف علاوه کرد که به زودی کار اعمار این تعمیرهاآغاز و درمدت یکسال آینده، تکمیل خواهد شد . قراراظهار آقای ننگ ، تعمیرهای مکاتب یادشده دریک منزل دارای هشت صنف درسی ، تشناب واتاق های اداری به شکل پخته واساسی اعمار می گردد.

وی گفت که طی سال روان درسطح کشور، کار اعمار ۱۲۰۰ مکتب آغاز گردیده و تعمیرهای بیش از ۳۰۰ مکتب به بهره برداری سپرده شده است .

به اساس معلومات منبع ، درسطح کشور۱۳ هزار مکتب فعالیت دارد که ازجمله ۶۵۹۰ با ب آن دارای تعمیر ومتباقی بدون تعمیر درزیرخیمه ها ، تعمیرهای نیمه ویران ، تعمیرهای کرایی وهوای آزاد فعالیت دارد.

د امریکا د پرمختیایي اداري...

حساب کتاب مو هم ښکاره وي، د ټرلیو ورونو تر شا نه وي. د پیسو د لګښت څېړنه د یو ایس ای ډي په درېیو پروژو کې د بریتانیا له یوې امنیتي کمپنۍ پیل شوه، خو په دې کمپنیو کې له رپوټ سره سم داسې نښې ترلاسه نه شوې چې د ځان د ساتنې لپاره طالبانو ته پیسې ورکوي، خو د دې سربېره د دې اې ای چارواکي اندېښنه لري چې یاغیانو په دوه زره نهم کال کې د یو ایس ای ډي تر واک لاندې له پراختیایي پروژو تر پنځه میلیونه ډالرو ډېرې په زوره اخیستې دي. په افغانستان کې د امریکا د نړیوالې پراختیایي اداري مشر ایرل ډبلیو ګاسټ وایي، دې اې ای موسسې ته لارښوونه شوې چې خپلې پیسې کنټرول کړي، خو نومورې زیاته کړه چې د دوی پروګرامونه به په لرې پرتو سیمو کې دوام وکړي، په هغو ځایونو کې به هم کار روان وي چې ستونزې په کې دي. د ازادي راډیو د راپور له مخې، د دې اې ای د اداري د ویاند په وینا د عمومي څېړنې د اداري له لورې کره شواهد نه دي وړاندې شوي چې د دوی په پروژو کې اداري فساد شته.

خبرتیا

افغانستان اسلامي جمهوريت
تاکتیزو شکایتونو کمیسیون

کمیسیون شکایتونو کمیسیون
Electoral Complaints Commission

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

آگاهی

برای داشتن انتخابات شفاف و عاری از هرگونه تخلف، کمیسیون شکایات انتخاباتی به تمام شکایت ها در مورد تخلف های انتخاباتی رسیدگی می کند. تخلف های انتخاباتی مانند شمارش رای ها در قانون انتخابات و دستورالعمل شمارش رای ها به صراحت ذکرشده است و هرگاه چنین تخلف هایی ملاحظه شود، شخص متخلف مورد پیگرد قانونی قرار می گیرد. بر اساس ماده ی ۶۳ قانون انتخابات موردهای زیر تخلف انتخاباتی شمرده می شود:

بند ۴- ارتکاب تقلب در رای دهی یا شمارش رای ها.

بند۸- تغییر، تبدیل و سرقت سندهای انتخاباتی یا محو این سند ها بدون تجویز قانونی.

بند۱۲- دخالت در مواد و لوازم انتخاباتی یا صندوق های رای دهی بدون صلاحیت لازم.

بند۱۳- اخلال کار ماموران انتخاباتی حین انجام وظیفه های شان.

بند۱۷- اغوا و تحریک سایر اشخاص به ارتکاب تخطی های انتخاباتی.

دستورالعمل شمارش رای ها

ماده ی سوم: شمارش رای ها به سطح محل های رای دهی، در مرکزهای رای دهی از قبل تعیین شده توسط کمیسیون صورت می گیرد.

ماده ی پنجم:

۱- شمارش رای ها باختم مرحله ی رای دهی به وسیله ی کارمندان محل رای دهی تحت نظارت رییس محل اجرا می شود.

۲- رییس محل مطابق طرزالعمل های مصوب کمیسیون، مسئولیت محل شمارش رای ها و تطبیق دقیق روند شمارش را به عهده دارد.

ماده ی هفتم:

هیچ فردی به جز از اشخاص آتی اجازه ندارد تا در محل های شمارش رای ها حضور داشته باشد.

۱. عضوهای کمیسیون.
۲. کارمندان موظف رای دهی و کارمندان توظیف شده از جانب دارالانشای کمیسیون.
۳. نمایندگان کمیسیون شکایات انتخاباتی.
۴. ناظران، مشاهدان و نمایندگان رسانه های دارای اعتبار نامه.
۵. مهمانان خاص معرفی شده از جانب کمیسیون.

ماده ی دوازدهم:

آمرین ولایتی انتخابات خریطه های حفاظتی حاوی فورم های مختلف مربوط به نتیجه ی شمارش رای ها را بعد از حصول اطمینان در مورد صحت و تکمیل بودن آن ها به مرکز ملی نتیجه ها در کابل ارسال می کنند.

هموطنان عزیز! در صورت مشاهده ی تخلف های انتخاباتی یاد شده، لطف کنید به خاطر عادلانه برگزارشدن انتخابات، موردهای مشاهده شده را با دفتر مرکزی کمیسیون شکایات انتخاباتی در کابل یا دفترهای ولایتی کمیسیون شکایات انتخاباتی در سی و چهار ولایت کشور، در میان بگذارید، یا با شماره تلیفون زیر با ما تماس بگیرید.

شماره ی تماس :
۰۷۹۸۳۴۰۱۳۱

بد بینی ها ی روز افزون امریکایی ها در قبال جنگ افغانستان



مطابق یک نظر سنجی جدید ملی که از طرف شبکه جهانی سی ان ان به راه انداخته شده، نشان میدهد که تقریباً از ۱۰ نفر شش نفر امریکایی مخالف جنگ افغانستان بوده وحد اوسط بدبینی در باره اوضاع ایالات متحده که به آن مواجه است، رو به افزایش است.

یک بررسی که از طرف موسسه پژوهش افکار عمومی سی ان ان که به روز چهار شنبه انتشار یافت، نشان میدهد که ۴۴ در صد مردم امریکا معتقد اند که جریان سیاسی و نظامی در امور جنگ افغانستان به خوبی پیش میرود، در حالیکه این رقم در ماه مارچ همین سال به ۵۵ در صد بود. مطابق این نظر خواهی، ۵۸ در صد امریکایی ها مخالف جنگ افغانستان اند که بیشترین مخالفان در میان دموکرات ها اند. دایرکتر نظر سنجی سی ان ان کیتینگ هولند می گوید از ۱۰ جمهوریخواه شش نفر از این جنگ حمایت شانرا ابراز داشته بودند، لیکن این حمایت فعلاً به ۴۰ در صد در میان نامزدان مستقل پارلمان و فقط ۲۰ در صد میان دموکرات ها افت نموده است.

سروی خاطر نشان می سازد که از آغاز ماه سپتمبر سال روان میلادی حمایت از این جنگ ۹ درجه در میان دموکرات ها کاهش یافته است، در حالیکه باقیمانده ثابت در میان جمهوریخواهان و نماینده گان مستقل پارلمان اند.

بصورت جداگانه، مطابق آرای مردم، دو سوم امریکایی ها حالا مایل اند که همجنس بازان زن و مرد را اجازه دهند تا در صفوف نظامیان امریکایی ایفای وظیفه نمایند.

این سروی موسسه پژوهش افکار عمومی سی ان ان به تاریخ ۲۱ تا ۲۳ سپتمبر سال روان میلادی همراه ۱۰۱۰ امریکایی بالغ ذریعه تیلفون پرسیده شده بود.

*** – تقریباً ۶۰ در صد امریکایی ها مخالف جنگ در افغانستان اند**
*** – فقط ۴۴ در صد امریکایی ها معتقد اند که جنگ در افغانستان به خوبی پیش میرود.**
*** – حمایت از این جنگ در میان دموکرات ها به پایین ترین رقم رسیده است**
*** – دو سوم امریکایی ها مایل اند که هم جنس بازهای زن و مرد را اجازه دهند که به صفوف نظامی بپیوندند.**

کنوانسیون حقوق اطفال

یودیرشمه ماده : ماشومان د لوبو او تفریح حق لري او باید په نبه او برابره توګه په فرهنګي، هنري، سپورتي او تفریحي فعالیتونو کې د ګډون کولو له امکاناتو نه برخمن شي.

مادهٔ سی و یکم: اطفال حق بازی و تفریح دارند و باید بصورت مساویانه و خوب از امکانات شرکت در فعالیت های فرهنگی، هنری، ورزشی و تفریحی برخوردار شوند.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه پې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com